## ۱- لنډیز

*وروسته له دوه ورځو (د کندهارد ملی امنیت ریاست له یوی ځانګی څخه ) بیا د کندهار ملی امنیت ریاست ته انتقال شوم. ما یوه شپه می په برنډه کی تیره کړه. په سبا ورځ د تحقیق شعبی ته د یوکارمند له خوا وغوښتل شوم. هغه له ما څخه وپوښتل چه آیا زه د دغه دفتر نوم پیژنم. ما وویل چی "خاد" (د ملی امنیت پخوانی نوم). هغه وویل: " ته باید پر هرهغه څه چی تا تیر وخت کی د طالب په صفت ترسره کړی اقرار وکړی. دلته تیری هم اقرار کوی." نوموړی په لمړیو دوو ورځو کی په دی ټینګار کاوه چه باید اقرار وکړم خو ما اقرار ونکړ. وروسته له دوه ورځو څخه هغه ځما لاسونه شاته وتړل او د برق په کیبل یی ځما په وهلو پیل وکړ. هغه په خپلو لاسونو هم ووهلم، چی په شا یی په لاسونو وهلم او په پښو او لاسونو یی په کیبل وهلم. سره له دی چی هغه زه ډیر په سختی وهلم خو ما اقرار ونکړ. د همغی ورځی په شپه یوبل کارمند راغی او تحقیق یی وکړ، هغه وویل: "یا اقرار وکړه یا مرګ ته تیار شه. زه به دی مړ کړم." ما ورته وویل د دی پر ځای چی ماته د مرګ تهدید راکوی زما پر ضد شواهد وړاندی کړه. هغه بیا د برق کیبل واخیست او په لاسونو یی سخت ووهلم. د دغی شپی تحقیق او وهلو د دریو څخه تر څلورو ساعتونو پوری دوام وکړ او دوه ځلی یی بیا زما سپکاوی وکړ. دوی پوښتل چه آیا زه په کندهار کی کوم طالب قوماندان پیژنم. ما ورته وویل چه نه زه یی نه پیژنم. د اخرنی تحقیق په ترځ کی دوی زه په جبر باندی مجبور کړم چه یو کاغذ لاسلیک کړم. زه نه پوهیدم چه دوی څه لیکلی وه او ماته یی د لوستلو اجازه رانکړه.*

**- توقیفی نمبر ۳۷۱ ، دکندهار ملی امنیت توقیف خانه ، می ۲۰۱۱**[1]

د ۲۰۱۰ د اکتوبر څخه ۲۰۱۱ کال د اګست پوری، یوناما له ۳۷۹ تنو له محاکمی څخه وړاندی او یا محکوم شوو توقیفیانو سره په ۴۷ توقیف ځایونو کی د افغانستان په ۲۲ ولایتونو کی مرکی کړی. په مجموع کی، له ۳۷۹ تنو څخه ۳۲۴ تنه یی هغه بندیان وو چی د ملی امنیت یا هم د افغان ملی پولیسو له خوا د ملی امنیت ضد جرایمو (مشکوک طالب جنګیالی، د ځانوژونکو بریدونو تسهیل کوونکی، د چاودیدونکو توکو تولیدوونکی او یاهم د افغانستان د وسله والی شخړی په تړاو د نورو جرایمو په تور نیول شوی).

یادی مرکی د ملی امنیت او ملی پولیسو توقیف خانو، د عدلیی وزارت اړوند محابسو او د اصلاح مراکزو کی تر سره شوی دی. د توقیفیانو د انتقال په سبب، دی مرکو په ۲۴ توقیف ځایونو کی د افغانستان د ۳۴ ولایتونو څخه توقیفیانو سره سر او کار درلود.[2] په استثناء د دوو ځایونو څخه ملی پولیسو، د ملی امنیت ریاست، د عدلیی وزارت او د نورور اړوندو ارګانونو چارواکو له یوناما سره بشپړه همکاری کړی او توقیفیانو او توقیف خانو ته یی د لاسرسی زمینه برابره کړی ده.[3]

د ملی امنیت ریاست او افغان ملی پولیس دافغانستان اساسی امنیتی ځواکونه دی چی د وسله والو شخړو په تړاو نیونی او توقیفونی ترسره کوی او د ملی امنیت په جرمونو باندی د تورنو توقیفیانو تحقیق او پلټنه د ملی امنیت ریاست مسؤولیت دی. د ملی امنیت ریاست دهیواد اصلی کورنی او بهرنی استخباراتی ارګان دی چی امنیتی او دقانون د تطبیق کړنی فعالیتونه ترسره کوی ترڅو د استخباراتی معلوماتو د راټولو له لاری د عامه ګټو پرضد د جرایمو څخه مخنیوی وکړی. په داسی حال کی چی د هیواد د پولیسو ځواک (افغان ملی پولیس) جنایی او وسله

---

[1]. هغه تاریخونه چی د توقیفیانو په هکله ذکر شوی د هغوی د توقیف موده ښیی نه د یوناما سره د مرکی وخت.
[2]. د وسله والی شخړی په تړاو ۳۲۴ د یوناما له خوا مرکه شوو توقیفیانو له جملی څخه ۲۷۳ تنه یی د ملی امنیت توقیف خانو کی، ۱۱۷ تنه یی د ملی پولیسو نظارت خانو کی او ۱۲ تنه یی د ملی اردو په نظارت خانو کی ساتل شوی وو. له ۳۲۴ تنو څخه ۷۸ تنه یی د دواړو ملی امنیت او ملی پولیسو له خوا توقیف شوی وو. د دی رپورټ په برخه کی د یوناما میتودولوژی په اړه زیاتو معلوماتو لپاره د دی رپورټ میتودولوژی ته دی مراجعه وشی.
[3]. په کابل کی د ملی امنیت د تروریزم ضد ریاست ۹۰/۱۲۴ او د کاپیسا ولایتی توقیف خانو ته یوناما ته د ملی امنیت د مسئولینو له خوا اجازه ورنه کړای شوه.

والو شخړو پورې مربوط جرایمو ته رسیدګی کوی. نړیوال امنیتی ځواکونه هم د وسله والو شخړو پورې مربوط جرایمو په توقیفونو کی د پام وړ رول لوبوی.[4]

د یوناما په ریسرچ کی زیات تمرکز د ملی امنیت ریاست او په دوهمه درجه د ملی پولیسو پر توقیفونو باندی شوی دی. د یوناما مرکو کی د توقیفیانو سره د ملی امنیت ریاست او د افغان ملی پولیسو پر چلند او د افغانستان د دولت د موثری رجوع د حق مراعات چی د افغانستان او نړیوالو بشری حقونو قوانینو کی تضمین شوی، تمرکز شوی دی.[5]

**د ملی امنیت او ملی پولیسو له خوا د توقیفیانو شکنجه او ناوړه چلند**

د توقیف خانو څخه د یوناما نظارت داسی شواهد موندلی دی چی د ۲۷۳ تنو مصاحبه شوو توقیفیانو له جملی څخه ۱۲۵ تنه (۴۶ فیصده) یی چی د ملی امنیت ریاست تر توقیف لاندی دی د ملی امنیت ریاست د کارمندانو له خوا د تحقیق هغه تخنیکونو سره مخ شوی چی په کی شکنجه کی راځی او دا شکنجی په هیواد کی د ملی امنیت ریاست په ځینو توقیف خانو کی په سیستماتیک ډول پلی کیږی. د ملی امنیت له خوا تقریباً ټولو شکنجه شوی توقیفیانو چی د تحقیق په موده کی یی د ناوړه چلند راپور ورکړی، موخه یی د اقرار اخیستل او یا د معلوماتو ترلاسه کول وو. په اکثرو قضیوکی کله چی تورنو په لګول شوی اتهام اقرار کړی او یا هم یی مطلوبه معلومات وړاندی کړی، کارمندانو د دوی شکنجه کول درولی دی. همدارنګه یوناما دا هم موندلی چی د ۱۸ کلونو څخه کم عمر ماشومان هم د ملی امنیت کارمندانو لخوا شکنجه شوی دی.[6]

د افغان ملی پولیسو د توقیف لاندی ۱۱۷ توقیفیانو له جملی څخه چی یوناما ورسره مرکه کړی تقریباً له دریو څخه یی یوه برخه یی د شکنجی یا نورو ظالمانه، غیرانسانی او تحقیرونکی چلند سره مخ شوی دی.[7]

په ټولو هغه حالاتو کی چی مظنونین او متهمین د دولت ضد جرایمو باندی تورن وو، د تحقیق جریان د اقرار تر لاسه کولو په موخه د شکنجی او ناوړه چلند شکل اختیار کړی دی. مستند شوی اعمال د شکنجی نړیوال تعریف لاندی راځی. شکنجه هغه وخت واقع کیږی چی دولتی چارواکی د رسمی دندو د ترسره کولو پر مهال د اقرار یا معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه یو کس ته فزیکی یا روانی صدمه وروړسوی، یا یی امر ورکړی او یا ورسره په منفعله توګه موافقه وښیی او یا شخص مجازات کړی او یا یی پر وړاندی له تبعیض څخه کار واخلی.[8] داسی اعمال چی د شکنجی حد ته رسیږی، د نړیوالو قوانینو پر اساس له بشری حقونو څخه جدی سرغړونه ګڼل کیږی او همدا رنګه د افغانستان د قوانینو له مخی جرم دی او د افغان او نړیوالو قوانینو له خوا په جدی توګه منع کړای شوی دی.[9]

---

4

[5]. د افغانستان په توقیف خانو کی د شکنجی، ناوړه چلند او خپل سره توقیفونو رپورټونه کومه نوی خبره نه ده. (د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون د ۲۰۰۹ کال د اپریل د میاشتی رپورټ: "د قانون تطبیقونو اداراتو کی د شکنجی دلایل" انټرنټی پته: http://www.aihrc.org.af/2010_eng/Eng_pages/reports/Thematic/Research_cause_of_Torture_2009_April.pdf
;
د په افغانستان کی د بشری حقونو د وضعیت په اړوند د ملګرو ملتونو د بشری حقونو لپاره د عالی کمیشنریَ د جنوری ۲۰۰۹ د لسمی غونډی رپورټ: http://daccess-dds-ny.un.org/doc/UNDOC/GEN/G09/103/68/PDF/G0910368.pdf?OpenElement;
"د بشری حقونو د کړنو په اړه د ۲۰۱۰ کال د هیوادونو رپورټ" ، ۲۰۱۱ کال د اپریل ۸مه: http://www.state.gov/documents/organizations/160445.pdf
"د بشری حقونو د کړنو په اړه د ۲۰۰۹ کال د هیوادونو رپورټ" د امریکی د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت، مارچ ۲۰۱۰: http://www.state.gov/g/drl/rls/hrrpt/2009/sca/136084.htm

[6]. یوناما د ملی امنیت او پولیسو توقیف خانو کی د ۳۷ ماشومانو سره مرکی کړی. له دی ۳۷ څخه، ۲۳ تنو یی د شکنجی او ناوړه چلند رپورټ ورکړی چی ۱۹ تنه یی د امنیت ملی له خوا او ۴ تنه یی د ملی پولیسو له خوا د شکنجی یا ناوړه چلند سره مخ شوی.

[7]. یوناما د ملی پولیسو په توقیف خانو کی ۵۵ تنو جنایی جرمونو باندی متهمو سره مرکه کړی. له دی ۵۵ څخه ۱۳ تنو (۲۵ سلنه) یی د ملی پولیس له خوا د شکنجی او ناوړه چلند رپورټ ورکړی دی.

[8] دشکنجی او نورظالمانه ،غیرانسانی، توهین امیز رفتار یا مجازاتو ضد کنوانسیون (CAT)، ۱ ماده

[9] د افغانستان اساسی قانون ۲۹ ماده وایی" "هیڅوک نه شی کولای چی له بل شخص څخه حتی دحقایقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم ترتعقیب، نیونی یا توقیف لاندی وی اویا په جزامحکوم وی، د هغه د تعذیب لپاره اقدام وکړی یا یی د تعذیب امر ورکړی." د جزاقانون هم

توقیفیانو خپلی شکنجی د ګڼ شمیر اعمالو په شکل لکه د ځوړندولو (دیوال، چت، اوسپنیزو میلو او یا نورو ثابتو شیانو پوری د اوږدی مودی لپاره د لاسونو له بندونو څخه د ځنځیر او یا نورو شیانو په وسیله ځوړندول)، او وهلو ټکولو، په ځانګړی توګه د پلاستیکی پایپونو، برقی کیبلونو او سیمونو او یا هم د لرګیو او لښتو په واسطه چی اکثراً د توقیفیانو د پښو په تلو استعمالیږی، برقی شاک، د تناسلی آلی تاوول، بیضو (هګیو) ته فشار ورکول، د پښو د نوکانو ویستل، سخت وضعیت کی راوستل لکه په جبر درول، او په جنسی تیری تهدیدولو په توګه بیان کړی دی. همدارنګه د سترګو تړل، پر سر کځوړه اچول او صحی خدماتو ته لاسرسی څخه منع کول هم په ګوته شوی دی. یوناما د ۲۰۱۱ کال د اپریل په میاشت کی د کندهار ولایت د ملی پولیسو او ملی امنیت په نظارتخانه کی د شکنجی له امله د یو توقیفی د مړینی قضیه مستند کړی ده.

یوناما قوی او معتبر معلومات ترلاسه کړی چی د ملی امنیت کارکوونکو د نوموړی اداری په پنځو مختلفو توقیف خانوکی په سیستماتیکه توګه توقیفیان شکنجه کړی ترڅو د هغو څخه اقرار او معلومات ترلاسه کړی.[10] دغه توقیف ځایونه په هرات، کندهار، خوست او لغمان کی د ملی امنیت ولایتی توقیف خانی او په مرکز کی د ملی امنیت ریاست د تروریزم ضد ځانګی توقیف خانه، چی د ملی امنیت ۹۰/۱۲۴ ریاست په نامه پیژندل کیږی، دی. یوناما په کاپیسا او تخار ولایتونو کی د ملی امنیت ریاست په توقیف خانو کی د شکنجی په هکله د څو بااعتبارو ادعاګانو معلومات ترلاسه کړی. یوناما د ارزګان او پکتیا په ولایتونو کی د ملی امنیت له توقیفخانوڅخه د نظارت په بهیر کی د شکنجی په هکله کوم معلومات ترلاسه کړی نه دی.

یوناما په نورو ۱۵ ځایونو کی چی د ملی امنیت ۱۷ توقیفخانی په کی شاملی دی، د شکنجی ګڼ شمیر اتهامونه ترلاسه کړی دی[11]. په یادو ۱۷ ځایونو کی د مرکه شوو ۲۵ سلنه خلکو د شکنجی ادعا کړی ده. د دی رپورټ د لیکلو تر وخته یوناما نه ده توانیدلی چی د دی مرکو پر اساس د دی اتهامونو اعتبار وښیی او په قانع کوونکی توګه دا اتهامونه ثابت کړی.[12] د یادو شوو ادعا ګانو په هکله د یوناما پلټنی لا دوام لری.

د افغان ملی پولیسو تر نظارت لاندی توقیفیان راپور ورکړی چی ناوړه چلند په مختلفو حالاتو کی په پراخه اندزاه ترسره کیږی. د ناوړه چلند ځینی روښونه د شکنجی څخه عبارت دی په داسی حال کی چی ځینی نور یی ظالمانه، غیرانسانی یا توهینوونکی چنلدونه دی. د افغان ملی پولیسو له د ناوړی چلند روښونه په لاندی ډول ښودل شوی دی: د نیونی پرمهال، په چک پوستونو کی، امنیه قوماندانیو او د حوزی په امریتونو کی د پولیس افسرانو له خوا بد چلند.

د افغانستان قانون او د شکنجی او نورو ظالمانه،غیرانسانی یا توهین آمیزه رفتار یا مجازاتو ضد کنوانسیون پراساس د افغانستان دولت مکلف دی چی د شکنجی او بد رفتاری ټولی پیښی ژر تر ژره بررسی او مسؤولین یی عدلی تعقیب لاندی ونیسی، قربانی ته د خساری جبران ورکړی او د شکنجی د تکرار څخه مخنیوی وکړی. دا د دولت مکلفیت دی چی په هر حالت کی د منع شکنجی حکم ته احترام وکړی او شکنجی ته په هیڅ حالت کی مشروعیت ورنکړی ولو که د جنګ یا د جنګ د تهدید، کورنی سیاسی بی ثباتی او یا هم اضطراری حالت هم

---

شکنجه جرم ګڼلی او په ۲۷۵ ماده کی وایی: :که چیری د عامه خدمتونو چارواکی (په شمول د ملی امنیت ریاست او د افغان ملی پولیس کارکوونکی) تورن د اعتراف اخستلو په منظور شکنجه کوی، له ۵ څخه تر ۱۵ کلونو په حبس محکومیږی.

[10]. په دی رپورټ کی یوناما په سیستماتیکه توګه د شکنجی استعمال داسی تعریفوی: د تحقیق د یو میتود په توګه په یو محل کی د شکنجی تطبیق دی چی د وسله والی شخړی اړوند توقیفیانو په برخه کی د یوی پالیسی او معیاری پروسیجر په توګه ورڅخه استفاده کیږی. له دی کبله چی د وسله والی شخړی اړوند ټول توقیفیان چی مرکه ورسره شوی د تحقیق داسی میتودونو سره مخ شوی چی حد یی شکنجی ته رسیږی، او د تسهیل کارکوونکی او مدیریت دواړه باید په دی خبر وی، هغه یی عملی کړی وی یا یی امر ورکړی وی او یا هم ورسره موافق وی. په دی توګه داسی نتیجه اخیستل کیږی چی شکنجه د مربوطه تسهیل یوه بنیادی پالیسی او طرزالعل دی او یواځی د یو څو «خرابو خلکو» خلکو له خوا په انفرادی قضایاو کی او کله کله ورڅخه استفاده نه کیږی.

[11] په دی کی د ملی امنیت ریاست دغه ولایتی توقیف خانی شامل دی: بدخشان، بادغیس، بغلان، بلخ، دایکندی، فراه، هلمند، کنر، کندز، ننګرهار، سمنګان، سر پل، وردګ، زابل او کابل (ریاست ۱۷/۴۰، ریاست ۱۸/۳۴ او ریاست اول).

[12]. د شکنجی پر ضد نړیوال کنوانسیون ۳ مه ماده حکومتونه مکلفوی چی هیڅ شخص بل هیواد ته چی هلته یی د شکنجی احتمال موجود وی، ونه سپاری. که چیری لازمی وی چی یو شخص دی کوم شخص یا کومی بلی اداری ته انتقال یا وسپارل شی چی هغه په شکنجه او ناوړه سلوک کی دخیل وی، او یا په کافی اندازه مصونیت یی نه وی تآمین کړی، نو دا دولت مکلفیت لری او چارواکی یی د سزا وړ ګڼل کیږی چی د دولت د مکلفیت پر خلاف چی باید د شکنجی د مخنیوی لازم تدابیر ونیسی، د دی انتقال امر یی ورکړی او یا یی په دی انتقال کی ونډه اخیستی.

وی. یوناما د افغانستان پرچارواکو باندی غږ کوی چی د شکنجی د ختمولو او منع کولو لپاره ممکنه گامونه پورته کړی او د شکنجی د ټولو اعمالو لپاره د حساب وروکونی زمینه برابره کړی.

**دنړیوالو قواو له خوا ملی امنیت او ملی پولیسو ته د توقیفیانو سپارل**

دیوناما د توقیف خانو کتنه کی د ۸۹ تنو توقیفیانو سره مرکی شاملی دی چی په کی دوی ویلی چی د دوی په نیولو کی بهرنیو قواوو (چه ټولو ۸۹ دامریکا یانو په نامه یادولی)، گډون درلود او بیا یی دوی ملی امنیت یا ملی پولیسو ته سپارلی دی. د توقیف په دوران کی له دی شمیر څخه ۱۹ تنو د ملی امنیت لخوا د شکنجه کیدلو او دری تنو د ملی پولیسو له خوا د ناوړه سلوک یاده کړی. د شکنجی ضد نړیوال کنوانسیون په بنسټ دولتونه له دی دی څخه منع کړای شوی چی توقیفیان هغه هیواد ته وسپاری چی هلته د دوی د شکنجی خطر موجود وی.[13] د آیساف اصول هم د نړیوالو قوانین سره سم په هیڅ حالت کی د یو شخص د سپارلو اجاره نه ورکوی چیرته چی د نوموړی د شکنجه کیدلو خطر موجود وی.

دا وضعیت ملی امنیت او ملی پولیسو ته د نیول شوو وګړو د سپارلو د جدی کتنی او نظارت غوښتونکی دی او دا ضروری ګڼی چی په هغه صورت کی چی توقیف خانو کی د شکنجی دقیق رپورټونه موجود وی، د سپارلو پروسه وځنډوی.[14]

د تیرو کلونو په ترڅ کی په مختلفو وختونو کی بریتانیا او کاناډا په کندهار او کابل کی د ملی امنیت توقیفخانو ته د توقیفیانو سپارل د توقیفیانو سره د سلوک په اړه د تشویش پر بنسټ څو واری درولی دی. دی هیوادونو له انتقال څخه وروسته د نظارت پروګرامونه تطبیق کړی دی چی دوی ته اجازه ورکوی چی د هغه توقیفیانو سره سلوک تعقیب کړی چی د دوی نظامیانو افغان چارواکو ته سپارلی دی. د امریکی سفارت په دی وروستیو کی د انتقال څخه وروسته نظارت لپاره یو پروګرام جوړ کړی او د افغانستان دولت ته یی د هغوی د ارزونی لپاره وړاندی کړی دی[15]. سفارت یوناما ته توضیح ورکړی چی دا پروګرام د امریکی دولت لپاره یو مثبت گام دی چی د افغانستان حکومت سره کار وکړی تر څو ډاډمنه کړی چی د دوی د توقیف سیستم مصون، مطمین او انسانی دی.[16]

د۲۰۱۱ کال جولای په لمړیو کی امریکا او ایساف په کندهار، زابل ،ارزګان، او دایکندی ولایتونوکی دهغه راپورونو پراساس چی یادو ولایتونوکی دشکنجی په هکله موجود وو دبندیانو سپارل او انتقالول ملی امنیت او ملی پولیسو ته بند کړل.[17]

د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر په اوایلو کی د دی رپورټ د موندنو پر بنسټ آیساف وویل چی دوی د توقیفیانو د انتقال پروسه د مخنیوی د اقداماتو د تدابیرو په توګه درولی ده.[18]

د ملی امنیت او د ملی پولیسو په واسطه شکنجه او ناوړه سلوک د "Leahy Law" تطبیق ته اجازه ورکوی چی د هغی پر اساس د امریکا متحده ایالات له دی څخه منع کوی چی د بل هیواد هغه امنیتی ځواکونو واحدونو ته فنډ، وسله او ټریننګ ورکړی چی پر وړاندی یی د امریکا د کورنیو چارو وزارت سره د نوموړو ځواکونو د بشری

---

[13]. د دی رپورټ پنځم فصل وګورئ.

[14]. د امریکی د جمهوری ریاست د یوی ځانګړی امریی پر بنسټ (۱۳۴۹۱/د ۲۰۰۹ کال د جنوری ۲۲ مه) د تحقیقاتو او انتقال د پالیسی ځانګړی کاری ډلی سپارښتنه کړی چی باید متحده ایالات د انتقال څخه وروسته د بندیانو د نظارت یو پروګرام جوړ او پلی کړی چی رئیس جمهور اوباما یی هم امر ورکړی.

[15] د یوناما مرکه د امریکا د دولت چارواکو سره، د ۲۰۱۱ کال د اګست ۲۹ مه، کابل.

[16]. د یوناما لیدنی د ۲۰۱۱ کال د اګست په میاشت کی د آیساف د چارواکو سره او د اګست په ۲۱مه د کندهار ولایت د ملی امنیت معاون ډګروال عبدالوهاب سره. د توقیفیانو د انتقال ځنډول د ۲۰۱۱ کال د جولای د ۱۲ می نیټی د امریکایی ځواکونو لپاره د یوی انفرادی امریی (FRAGO) پر اساس شوی دی.

[17]. په کابل کی د یوناما لیدنی د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر په میاشت کی د آیساف د چارواکو سره او د ایساف ویاند (جنرال کارستین جکوبسن) د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر ۷ نیټی اعلامیه.

[18]. د آیساف د چارواکو سره د یوناما کتنه: د ۲۰۱۱ کال سپتمبر، کابل. د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر د ۷ می نیټی د آیساف د قواوو د ویاند څرګندونی: "مونږ خبر یو چی د ملګرو ملتونو یو رپورټ به خپور شی چی په مونږ به هغی رپورټ ته په کتلو سره د ټولو توقیفیانو انتقال نه دروو بلکه د ځانګړو توقیفیانو انتقال به ودرولای شی."

حقونو څخه د تخطیو معتبر شواهد موجود وی.[19] دا قانون د کورنیو چارو وزارت یا د دفاع وزارت مکلفوی چې ټول معتبره شواهدو ته بیا کتنه وکړی، او د دی سازمانونو سره خپل عملیات ودروی، او مخکې له دی چې دی واحدونو سره خپلې مرستی بیا له سره پیل کړی، باید د اصلاحی اقداماتو حمایت وکړی. د افغانستان په قضیه کی دا قانون به د امریکی متحده ایالات مکلف کړی چې د افغانستان چاراواکو ته د توقیفیانو انتقال هغه مهال له سره پیل کړی چې د افغانستان دولت اصلاحی اقدامات تر لاس لاندی ونیسی او د ملی امنیت او ملی پولیسو هغه چاراواکی چې پر شکنجې او ناوړه سلوک تورن دی، محاکمی ته راکاږی.

**د توقیفیانو سره بدچلند او شکنجې په اړوند د ملی امنیت ریاست او د افغان ملی پولیسو د احتساب نشتوالی**

یوناما دا موندلی چې شکنجې او بدچلند په هکله د ملی امنیت ریاست او د افغان ملی پولیس د مسؤولینو حساب ورکونه ډیره ضعیفه او غیرشفافه ده او په ډیره کمه کچه تطبیقیږی. پر افغان ملی پولیسو او ملی امنیت د ادارو په حیث، او د دوی پر جرایمو او تخلفاتو، د ناوړه چلند او شکنجې په شمول، ډیر محدود خپلواک قضایی یا بهرنی نظارت موجود دی.

د جنایی یا بدرفتاری غیرمسلکی چلند اکثره قضیو ته د ملی امنیت ریاست د مسؤولینو له خوا په داخلی شکل رسیدګی شوی. د ملی امنیت ریاست لوړپوړی چاراواکی یوناما ته وویل چې یوازی دوه قضیی د ملی امنیت ریاست له خوا څیړل شوی دی چې یو یې هم پر مظنون باندی وارد شوی اتهام نه دی تعقیب کړی.

د ۲۰۱۰ کال په دسمبر کی، د ملی امنیت ریاست یوداخلی نظارتی کمیسیون جوړ کړ ترڅو د توقیفیانو په وړاندی د بدرفتاری، د طی مراحل قانونی مسئلی او توقیف خانو د معیشتی حالت ارزونه وکړی. وروسته له هغی چې نوموړی کمیسیون د ملی امنیت څو توقیف خانو څخه په جنوری کی لیدنه وکړه، باید خپل راپور یې د ملی امنیت عمومی ریاست ته وړاندی کړای وای. یوناما هم د ملی امنیت ریاست له دغو کتنو څخه نظارت وکړ چې د نوموړی کمیسیون د څیړنی د کیفیت او پراخوالی په هکله یې اندیښنی درلودلی. سره له دی چې دا په اول سر کی یو مثبت اقدام ګڼل کیږی، لکه څنګه چې د دی راپور موندنی څرګندوی، د شکنجې، بدرفتاری او په خپل سر توقیف ته د رسیدګی لپاره داسی ښکاری چې دغه نظارتی ډله تر اوسه پوری موثره نه وه.

د افغان ملی پولیسو د جنایی کړنو لپاره د حساب ورکونی داخلی او بهرنی میکانیزمونه شتون لری چې د داخلی وزارت له خوا په داخلی توګه اکثرو قضیو ته رسیدګی شوی. د افغان ملی پولیس له خوا د ترسره شوو جرمونو ادعا ګانی باید د لوی څارنوالی د نظامی چارو ریاست ته واستول شی ترڅو د نظامی څارنوال له خوا نظامی محکمه کی ورته رسیدګی وشی. که څه هم خلک کولای شی چې د پولیسو ناوړه چلند یا جرایمو په هکله د کورنیو چارو د یوی برخی له لاری شکایت وکړی، چې دغه ادعا ګانی د داخلی وزارت له دری ګونو برخو څخه یوی برخی له لاری تعقیبیږی، خو ډیرو لږو قضیو ته د دی میکانیزم له خوا رسیده ګی شوی ده.

**د طی مراحل قانونی څخه سرغړونی او په خپل سر توقیف**

په افغانستان کی تقریباً په ټولو جنایی قضیو کی دوسیه د مدعی علیه د اقرار پر بنسټ اقامه کیږی، چې په محکمه کی نه یوازی قانع کوونکی بلکه د مدعی علیه د جرم لپاره نهایی هم ګڼل کیږی. په محکمو کی د اقرار مفصل څیړنه په ندرت سره کیږی او په ډیرو کمو پیښو کی د قاضیانو یا مدافع وکیلانو له خوا چلینج کیږی.

د افغانستان قانون پر اساس غیر قانونی اقرار (لکه د شکنجې په واسطه اقرار) باید په محکمه کی بی اعتباره وګڼل شی. خو که حتی مدافع وکیلان په قضیو کی د جبری او تر شکنجې لاندی اقرار مسئله هم راپورته کړی بیا هم محکمه نوموړی ادعا رد کوی او اجازه ورکوی چې دغه اقرار د مدرک په توګه وکارول شی. د مدارکو د وړاندی کولو دغه روش په څرګنده توګه د قانون د متن او محتوا څخه تخطی ده او همدارنګه تخصصی مطالعاتو

---

[19]. د "Leahy Law" د بهرنیو عملیاتونو د اختصاص د قانون ځانګړی برخی دی. (د رپورټ د انګلیسی متن مربوط مآخذ ته دی مراجعه وشی).

ښکاره کړی ده چې هغه معلومات چې د شکنجې پر اساس ترلاسه شوی د یو شخص د مجرم والی یا بې ګناهی په هکله اعتبار نلری.[20]

یوناما د قانونی طی مراحل څخه نوری سرغړونې مستند کړی چې د ملی امنیت ریاست او د افغان ملی پولیس کارکوونکو له خوا ترسره شوی. په دی کی معمول د تاکل شوی وخت نه مراعات، چې د محاکمې څخه دمخه د جنایی تحقیقاتو او د نظارت سلسلی مختلفی مرحلی مشخص کوی، د توقیفوونکو مسولینو د رول د وضاحت نشتوالی، او د محاکمې څخه د مخه توقیف باندی د محکمې د نظارت نشتوالی او یا هم په آخر کې یې شتون شاملیږی. له دی کبله چې د وسله والی منازعی اړوند توقیفیان ډیر په ندرت سره مدافع وکیلانو او د خپلو حقونو په هکله معلوماتو ته لاسرسی لری، د شخص لپاره د دی مصئونو پروسیجرونو نشتوالی د دی باعث کیږی چې توقیفیان نه شی کولای چې د خپل توقیف پر قانونی والی اعتراض وکړی، یا معتبره دفاعیه آماده کړی یا هم د شکنجې او د زور له استفادی څخه مصئونیت وغواړی.

د افغانستان د جزایی اجراآتو د موقت قانون له مخی نظارتخانه کې ساتل د جنایی جرایمو د مرحلو پوری اړه لری. پولیس کولای شی چې یو شخص وروسته له نیونی تر ۷۲ ساعتونو پوری په نظارت کی وساتی. همدارنګه کولای شی چې ابتدایی تحقیقات وکړی، اتهام وارد کړی او قضیه ابتدائیه څارنوال ته وسپاری چې هغه کولای شی چې دا اتهامات د یاد شوی شخص د توقیف لپاره تصدیق کړی.[21] څارنوال کولای شی چې د نیونی له ورځی څخه تر ۳۰ ورځو پوری خپل تحقیقات وکړی او اتهامنامه جوړه کړی. د دغی مودی په جریان کی مظنون باید توقیف خانی ته انتقال شی چې د محابسو د عمومی ریاست له خوا اداره کیږی چې دا مهال د عدلیی وزارت پوری مربوط دی.[22]

د توقیف د صلاحیت جداوالی موخه د دی ډاډمنول دی چې مظنون د زیات وخت لپاره د مربوطه مسولینو تر نظارت لاندی پاتی نه شی تر څو له فشار او زور او ناوړه چلند څخه په امان کی وی. دا مصونیت ډیر مهم دی ځکه چې د جزایی اجراآتو موقت قانون له نیونی څخه وروسته د توقیف د قانونیت بیا کتنی ته د تحقیقاتو په لمړنیو مراحلو کی اجازه نه ورکوی. بلکه څارنوال ته دا وخت ورکوی چې د جزئی عدلی نظارت له کبله د اتهام د واردیدلو څخه د توقیف موده د محاکمې د پیل پوری لنډه کړی او یا یې وغځوی.[23]

---

[20] دشکنجې او نورظالمانه ،غیرانسانی، توهین امیز رفتار یا مجازاتو ضد په هکله د ملګرو ملتونو د ځانګړی راپورتر، جین ی. میندیز، راپور ته مراجعه وکړی چې د ۲۰۱۱ کال په فبروری کی د ملګرو ملتونو د بشری حقونو شورا ته وړاندی شوی "د استخباراتو، معلومات راټولو او د قانون د تنفیذ لپاره شکنجه او بدرفتاری د یوه غیرموثر روش او وسیله ثابته شوی او په اینده کی به هم بی ګټه وی." هغه اقرارونه او ویناوی چې د شکنجې په واسطه ترلاسه شوی وی بی اعتبار ګڼل کیږی او اکثرا د قانون د تنفیذ ااو د تحقیق د کارکوونکی هڅی بی ګټه کوی. نو ځکه په هیواد کی د جنګی جرمونو ټولو ډولونو ته د رسیدګیو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د خشونت او بدچلند موثر بدیلونو شتون ډیر اهمیت لری. همدارنګه دی ولیدل شی: الفرید و. مک کوی The "The myth of the Ticking time Bomb" Progressive ,October 2006, http://www.progressive.org/mag_mccoy1006 (accessed Frberuary 24,2010) "پس انتخاب واضح دی. لویه لاسته راوړنه د محدوده شکنجه یو افسانه ده ، مګر دزرګونو مظنونینو ډلیزه شکنجه، چې ځینو یې ګناه کار او زیابره یې بی ګناه دی، کولای شی ګټور معلومات لاسته راوړی. دغه معلومات شاید ګټور وی ولی په کوم قیمت؟ د شکنجې د دغه جګ قیمت زغمل چې د منلو وړ نه دی دغه هیواد بی اعتبار او زیانمن کوی. د فرانسی لپاره په الجیریا کی، د امریکا لپاره په ویتنام کی،او اوس مهال د امریکا لپاره په عراق کی هغه څه چې د شکنجې پربنسټ ترلاسه شوی ډیر لویه قیمت باندی تمام شوی." ډګر جنرال جان کیمونز، په استخباراتی چارو کی د امریکای قواوو د ستر درستیز مرستیال وایی: "د شکنجې مخالفان ریښتینی وطن دوستان دی، د نیویارک ناظر (۲۵ سپتمبر،۲۰۰۶) زه په بشپړ ډول قانع شوی یم چې هیڅکله هم صحیح اوښه معلومات د سواستفادی او بدچلند له لاری نه ترلاسه کیدای شی. زه فکر کوم دا تاریخ مونږ ته وایی. زه فکر کوم د تیرو پنځو سختو کلونو مدارک او تجربی موږ ته وایی چې ....... بر سیره پر دی، هر هغه معلوماتو اعتبار تر سوال لاندی راځی چې د فشار، زور او بد رفتاری له لاری ترلاسه شوی وی. دی نه علاوه د ګټی څخه زیان په هغه وخت کی لازیاتیږی کله چې دا څرګند شی چې له زور زیاتی او بدچلند څخه کار اخیستل شوی دی. او موږ نه شو کولای چې هلته بیا ولاړ شو." ډاکټر ماروین زلمن، جنایی کړنلاره: اساسی قانون او ټولنه (۲۰۰۷)، موندنی، "سی آی ای او ایف بی آی راپورونه د غلطو او معلوماتو راټولولو او د شکنجې له لاری د غلطو اقرارونو ستونزی څرګندوی. په الجیریا، شمالی آیرلند او اسرائیل کی د شکنجې کاروول مطلوبه سیاسی نتیجی نه ده ورکړی.

" پیټر فین او جوبی واریک، "Detainee's harsh treatment foiled no plots" واشنګټن پوسټ، مارچ ۲۹، ۲۰۰۹، (http;//www.washingtonpost.com/wp-dyn/content/article/2009/03/28/AR2009032802066.html) "

[21]. رسمی جریده شمیره ۸۲۰ (۲۵ فبروی ۲۰۰۴ کال) ۳۱مه، ۳۴مه او ۳۶مه ماده.

[22]. ۲۲۱ نمبر ماخذ ته رجوع وکړئ کورنیو چارو وزارت ته د محابسو د ریاست د مسئولیت انتقال.

[23]. د جزایی اجراآتو د موقت قانون ۶ مه ماده (دریم بند)، ۸ مه ماده (۴ بند)، ۳۴ مه ماده (دوهم بند)، ۳۶مه ماده، ۳۵ مه ماده دریم بند (ب جزء)، ۸۴ مه ماده او د محابسو او د توقیف خانو د قانون ۲۲مه او ۵۱مه مادی.

په عمل کی، ملی پولیس او د ملی امنیت چارواکی په عادی ډول دغه د وخت پابندئ او مصونیتونه له نظره غورځوی. یوناما وموندل چی د پولیسو او ملی امنیت ۹۳ سلنه توقیفیان چی مرکه ورسره شوی ده له ۷۲ ساعتونو څخه زیاتی مودی لپاره توقیف کی ساتل شوی دی. مخکی له دی چی د عدلیی وزارت توقیف خانو ته انتقال شی، په اوسط دول د ۲۰ ورځو لپاره پادو ادارو له خوا په توقیف کی ساتل شوی دی. زیاتو د ملی پولیسو او ملی امنیت کارکوونکو په خپل کار کی دغه ځنډ د بشری قواو کموالی، د لوژستیکی او تخنیکی ظرفیت نشتوالی او د سړکونو د خرابوالی او یا امنیت نشتوالی له امله لیری ځایونو ته د سفر مشکلاتو پوری منسوب کړل.

یوناما ومونډل چی ګڼ شمیر څارنوالان د امنیت پوری تړلو واقعاتو کی خپل د تحقیق صلاحیتونه د ملی امنیت کارمندانو ته ورکوی. وروسته له دی چی ملی امنیت خپلی پلټنی او تحقیقات تمام کړی، او توقیفی د عدلیی وزارت توقیف خانی ته وسپاری، نو بیا دوی خپل تحقیق پیل کوی چی دا پروسه څو میاشتی دوام کولای شی. په ځینو حالاتو کی څارنوال د ملی امنیت له خوا جمع شوو معلوماتو پر اساس خپله دعوی جوړوی. دا د څارنوالی د صلاحیت د انتقال سیستم د یو سریع عدلی نظارتی سیستم د نه موجودیت په صورت کی د دی سبب ګرځی چی یو توقیفی تر هغی چی قضیه یی محکمی ته محوله نه شی، نه شی کولای چی کوم قاضی وګوری، چی له نیولو څخه تر دری میاشتو پوری دوام پیدا کولای شی.[24] دا وضعیت د مدنی او سیاسی حقونو د کنوانسیون له مخی د افغانستان مکلفیت څخه سرغړونه ده چی د ټولو نیول شوو او توقیف شوو افغانانو قضاء او نورو قضایی ادارو ته وړاندی کول تآمینوی، او همدا رنګه دا د افغانستان د اساسی قانون سره هم په مخالفت کی واقع کیږی چی خپل سری توقیفونه منع کوی.[25]

د ملی امنیت ریاست په توقیف خانو کی د توقیفیانو لپاره د طرزالعملی ضمانتونو بله نیمګړتیا دا ده چی توقیفیان مدافع وکیلانو ته لاس رسی نه لری. سره له دی چی د افغانستان قانون توقیفیانو ته دا حق ورکوی چی د قضیی په هره مرحله کی مدافع وکیل ولری، د ملی امنیت ریاست یا د افغان ملی پولیس په توقیف خانو کی د ۳۲۴ تنو توقیفیانو له جملی څخه چی د یوناما لخوا مصاحبه شوی د راپور په اساس یوازی یوه توقیفی مدافع وکیل ته لاس رسی درلود. تقریباً ټولو مدافع وکیلانو او حقوقی سلاکارانو یوناما ته ویلی چی دوی د ملی امنیت ریاست توقیف خانو ته محدوده لاس رسی لری ځکه چی د ملی امنیت ریاست مسؤولین په قصدی توګه د دوی مخنیوی کوی چی توقیفیانوسره ووینی.[26] د ملی امنیت کارمندانو یوناما ته وویل چی دوی له دی ویری وکیلانو ته د توقیفی سره د لیدلو اجازه نه ورکوی چی مدافع وکیل ممکن توقیفی تر تأثیر لاندی راولی او د په نتیجه کی د تحقیق جریان اوږد شی. مدافع وکیلانو ویلی چی دوی په عمومی توګه د افغان ملی پولیس توقیف خانی او توقیفیانوته لاس رسی لری ولی هغه یوازی هغه وخت چی دوسیه څارنوالی ته ولیږل شی.

که څه هم د افغانستان قانون پراساس توقیفی حق لری چی خپلی کورنی سره وګوری خو یوازی ۲۸ سلنه هغه توقیفیانو چی د ملی امنیت په توقیف خانو کی ورسره مرکی شوی وی خپلو کورنیو سره لیدلی وو.

**شکنجه او خپل سری توقیف د پخلاینی او بیاستنیدو پروسی ته زیان رسوی**

د ملی امنیت او افغان ملی پولیسو له خوا شکنجه، ظالمانه، غیر انسانی او توهینوونکی چلند او خپل سری توقیف نه یوازی د بشری حقونو څخه جدی سرغړونه ده بلکه د پخلاینی او بیا ستنیدنی پروسی ته هم صدمه رسوی چی موخه یی د افغانستان شخړی ته د پای ټکی ایښودل دی. د یوناما تحقیق د نورو کارپوهانو د ارزونو سره په ګډه (چی د ۲۰۰۱ کال څخه وروسته د یاغیانو د یو ځای کیدو او تقویه کیدو ارزونه یی کړی ده) دا په ګوته کوی چی

---

[24]. پورتنی مآخذ وګورئ.

[25]. د مدنی او سیاسی حقونو په اړه نړیوال کنوانسیون، د افغانستان د اساسی قانون نهمه ماده، اول بند او دریمه او درویشتمه مادی اول او دریم بند، ۲۴ ماده، اول بند او ۲۷می مادی اول بند او دوهم بند. د ملګرو ملتونو د بشری حقونو د شورا د قضایاو قانون بیانوی چی یو څارنوال یو مکفی مستقل د توقیف مستقل قضایی صلاحیت نه لری.

[26] د نړیوال حقوقی بنیاد- افغانستان (ILF-A) او د افغانستان د حقوقی مشورو سازمان (LAOA) څخه د مدافع وکیلانو سره د یوناما مصاحبی، جولای ١٦، ٢٠١١. د ستونزمنو لاملونو څخه یو دا دی چی په افغانستان کی د مدافع وکیلانو شمیر کم دی. د افغان مدافع وکیلانو خپلواکه ټولنه (AIBA) پر اساس په ټول افغانستان کی ۱۲۰۰ مدافع وکیلان ثبت شوی دی. د عدلیی وزارت د مرکزی محبس ریاست د احصاییی له مخی د ۲۰۱۱ کال د جون میاشتی راهیسی په ټول هیواد کی تقریباً ۲۰۷۰۰ تنه د عدلیی وزارت په توقیف خانو توقیف شوی دی.

په ډېرو مواردو کې دغه بدرفتاري د دې لامل شوې چې د دې اعمالو قربانیان د طالبانو او دولت ضد مخالفینو سره یوځای شي او یاهم بیرته مخالفینو سره یو ځای شي.[27]

په دې راپور کې مستند شوې حقایق دا په ګوته کوي چې د افغانستان دولت د عملي شویو پروګرامونو تر منځ چې د یاغیانو سره بیا ستنیدنه او پخلاینه تقویه کوي، ستونزې موجود دي، په ځانګړې توګه د وسله والو شخړو توقیفیانو سره د ملي امنیت او د افغان ملي پولیس چارواکو له خوا بد چلند. د دولت د سولې او پخلاینې پروګرام د یاغیانو د تشویق لپاره جوړ شوې تر څو خپلې ټولې نارضایتئ یو خوا ته پرېږدي، پخلا شي او خپلو ټولنو ته بیا راستانه شي. په عین وخت کې د ملي امنیت او افغان ملي پولیسو بدرفتاري یاغیان دي ته مجبوروي چې خپل امنیت د دولت ضد عناصرو په لاس کې ووینې او په نتیجه کې د دولت سره وجنګیږي.

برسیره پر دې، په محلي کچه کې د دولت ضد عناصرو سره د پخلاینې په اوسنی هڅو کې د خپل سرې توقیفیانو د کمولو ضرورت د اعتماد په لوړولو کې یو کلیدي اقدام ګڼل کیږي. دولت د بندیانو لپاره د خلاصون څو پروګرامونه تر لاس لاندې ونیول ترڅو پردولت باندې د خلکو اعتماد او باور زیات کړي چې د خپل سرې توقیفونو او د بندیانو سره د ناوړه چلنداو د زیاتو کسانو په خپل سر توقیف او د بدرفتاري قضیې په سبب رامنځ ته شوې دې. د اعتماد د لوړلو په موخه د سولې عالي شورا اوس د وسله والو شخړو اړوند توقیفیانو دوسیې تر غور لاندې نیولې چې بدون د شواهدو څخه نیول شوي دي او قضا ته لاس رسی نه لري. دغه هڅې په هغه وخت کې زیان وینې کله چې د ملي امنیت ، افغان ملي پولیس او جنایي قضایي سیستم خپلې شکنجې، د اوږدې مودې لپاره په خپل سر توقیفونو او بدرفتاریو ته دوام ورکړي.

**د دولتي چارواکو له خوا شکنجه او سوءاستفاده په ملي کچه امنیت متآثره کوي**

د پخوا راهیسې د ملګرو ملتونو دریځ دا دی چې د تروریزم ضد مبارزې په موثرو اقداماتو کې باید ټل بشري حقونه رعایت شي او هم دا چې د دولتي چاراواکو له خوا د شکنجې او بدرفتاري نور ډولونه چې په دې راپور کې راغلي دي، ملي امنیت ته زیان رسوي. د ملګرو ملتونو د تروریزم ضد مبارزې نړیوال پالیسي او د عمل پلان په دې ټینګار کوي چې بشري حقونه او د قانون حاکمیت د تروریزم ضد مبارزې د اقداماتو اساسي عنصرونه جوړوي، د دې په نظر کې ونیولو سره چې د تروریزم ضد مبارزې اقدامات او د بشري حقونو د ساتنې اهداف د یو بل سره په تضاد کې نه بلکه یو د بل بشپړوونکې او پیاوړې کوونکې دي.[28] د بشري حقونو د تقویې او ساتنې او اساسي ازادي ګانو په باب د ملګرو ملتونو ځانګړې راپورتر دا په ګوته کړې چې د تروریزم سره د مبارزې په وخت کې د بشري حقونو رعایت کول نه یوازې دیوه هیواد قانوني او اخلاقي مکلفیت دی بلکه د تروریزم پر ضد د مبارزې لپاره یوه موثر لار هم ده.[29]

**کتنې یا مشاهدات**

شکنجه او خپل سرې توقیف دوه ډېرې د پام وړ د بشري حقونو موضوع ګانې دي چې د قانون د حاکمیت، رواني له نړیوالو وسله والو ځواکونو څخه ملي امنیتي ځواکونو ته د امنیت د مسئولیت د انتقال پروسې ، او بیا پخلاینې پروسو پروړاندې یوه مانعه ولاړوي. د توقیفیانو سره دایمي بدرفتاري او د قضا ناتواني چې قانوني طی مراحل ته احترام ولري او مراعات یې کړي، له ډېرې مودې راهیسې پر حکومت د اعتبار او اعتماد د زیان، له امنیتي ځواکونو څخه نارضایتي او د یاغیتوب د خپریدلو او زیاتیدلو سبب ګرځیدلې دي. توقیف شوي وګړي د ملي امنیت او ملي پولیسو لخوا شکنجه کیږي پرته له دې چې حساب ورکونه او سزا وجود ولري، یا فرد جبران وغوښتلای شي، پر خپل توقیف اعتراض وکړای شي، او بالاخره د هغه اقرار د طاقت پر خلاف ودریږي چې په زور او شکنجې سره اخیستل شوي.

---

[27]. د انګلیسي متن مربوطه مآخذ ته دې مراجعه وشي.

[28]. A/RES/60/288 (8 September 2006)

[29] په دغه ویب پانه کې لیدلای شی: http://www.un.org/terrorism/terrorism-hr.shml

دافغانستان اساسی قانون ، نافذه قوانین او نړیوال حقوقی مکلفیتونه یو موثر قانونی جوړښت وړاندی کوی چی هغی کی شکنجه ، ظالمانه ، غیر انسانی ، او توهین امیز اعمال منع شوی.[30] سره له دی چی لاتر اوسه هم ځینی حیاتی مصئونیتونه نه دی تأمین شوی، په ځانګړی توګه د توقیف قانونی والی باندی اعتراض کولوحق، د فعلی قوانینو موثر انفاذ کولای شی تر څو سواستفاده ودروی او د شکنجی او غیرانسانی اعمالو ترسره کوونکو سره حسابی وکړی .

دتوقیف خانو څخه دیوناما لیدنوښودلی چی دملی امنیت ځینو ځانګړوتوقیف خانو مسؤلین د بشری حقونو جدی سرغړونو او جرایمو مسؤول دی کوم چی یوناما لخوا مستند کړای شوی دی. د یوناما لاسته راوړنی څرګندوی چی سره له دی چی د افغانستان د ملی امنیت په ځینو توقیف خانو کی توقیفیان دمسؤولینو لخوا په سیستماتیکه توګه شکنجه شوی خو د ملی امنیت ټولو هغو توقیف خانو کی چی یوناما کتلی په سیستماتیکه توګه شکنجه نده لیدل شوی. له همدی کبله، یوناما د خپلو موندلو پراساس دی پایلی ته رسیږی چی شکنجه دملی امنیت او دولت لخوا د کومی رسمی پالیسی نه ده چی ګوندی له لوړ پوړو مقاماتو یا دولت له خوا به یی هدایت ورکړل شوی وی. دا واقعیت او دا چی د ملی امنیت مسؤولینو د یوناما سره همکاری کړی چی د توقیف خانو څخه لیدنه وکړی، دا څرګندوی چی اصلاحات د ملی امنیت په داخل کی هم ممکن دی او هم یی غوښتنه ښکاره شوی. ددی راپور د موندنو په ځواب کی د ملی امنیت لوړپوړو چارواکو یوناما ته ویلی چی دوی به د یو محدود وخت عملی پلان پربنسټ د شکنجی راپورونه بررسی کړی او رسیدګی به ورته وکړی.

د افغانستان د حکومت د ملی امنیت او داخله وزارت له خوا د چارواکو ځواب او نظر د دی راپور په پای کی د دوهمی ضمیمی په توګه ښودل شوی دی.

د تحقیق ناوړه روشونو څخه کار اخیستل ، چی د شکنجی تر حده رسیږی، د دی اړتیا لا زیاتوی چی قضا ، څارنوالی او دقانون د تنفیذ اداراتو کی باید اصلاحات رامنځته شی. پولیس ، څارنوالان ، د ملی امنیت مسؤلین او مستنطقین باید چی په ملی او نړیوالو قانونی معیارونو ، د تحقیق پرمختللی او معتبره روشونو کی چی شکنجه منع کوی روزنه ووینی، چی په دی توګه د توقیفیانو او تروریستی اعمالو مظنونینو همکاری او اعتبار به په اوږده مهال کی ترلاسه کړی چی په ملی سطحه امنیت ټینګولو کی مرسته کوی. دا تخنیکونه همدارنګه د معتبره استخباراتو او د معلوماتو او مدارکو لاس ته راوړلو ته زمینه برابروی چی د هغی پر اساس محکمه فیصله وکړی او پولیس ، څارنوالی او محکمه خپل سری توقیفونه حداقل ته ورسوی او قانونی طی مراحل محترم وګڼی او ټول هغه تضمینونه ډاډمن کړی چی حکومت پری مکلف دی ترڅویی ټولو توقیفیانو ته وړاندی کړی.

یوناما لاندنی وړاندیزونه افغان حکومت ته او دهغه نړیوالو همکارانوته وړاندی کوی ترڅو د ملی امنیت او ملی پولیسو ټولو توقیف خانو او نظارتخانو کی شکنجی او ناوړه چلند او خپل سری توقیفونو ته د پای ټکی کیږدی.

## اساسی سپارښتنی

**د ملی امنیت ریاست ته:**

- د ملی امنیت په ټولو توقیف خانو کی باید ژرترژه داسی اقدامات ونیول شی چی شکنجه او ناوړه چلند ودرول شی بالخصوص په هغه توقیف ځایونو کی چی داسی اعمال د تحقیق د میتود په توګه کارول کیږی:
- د هرات، کندهار، خوست او لغمان ولایتی دفترونو او په کابل کی د دی ریاست د تروریزم ضد مبارزی د ۱۲۴/۹۰ ریاست په توقیف خانو کی د ملی امنیت د شکنجی او بدرفتاری ټولو راپورونو په هکله دی تحقیق وکړی. هغه کارکوونکی چی مسؤول ګڼل کیږی باید له دندی څخه لیری، عدلی تعقیب او مجازات شی. خپلواکه ناظرینو ته دی اجازه ورکړ شی تر څو له دغو تحقیقاتو څخه

[30]. د وضع شوو قوانینو د لنډی کتنی لپاره لومړی ضمیمه وګورئ.

نظارت وکړی. د دغو تحقیقاتو د موندنو او اصلاحی اقداماتو په هکله دی په ښکاره راپور ورکړی شی.

- ژرترژره دی لارښونی صادر کړی چی په او ناوړه چلند په ټولو حالتونو کی او د ملی امنیت ریاست ټولو کارکوونکو لپاره منع کړی. او هغوی او د دوی امرین دی له دی څخه خبر کړی چی د دغسی اعمالو د ارتکاب، امرورکوونی یا پټونی په صورت کی به عدلی تعقیب او مجازات کیږی.
- ټولو مستقلو ناظرینو ته، د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون، یوناما، د سره صلیب نړیوالی کمیټی او نورو ته دی د ملی امنیت په ټولو توقیف ځایونو کی د بشپړ، دوامداره او بی له ځنډه نظارت اجازه ورکړی.

- د ملی امنیت ریاست د فعالیتونو او د توقیف خانو څخه د نظارت د کمیسیون د کار طریقی ته دی بیا کتنه وشی، تشخیص دی کړی چی ولی دغه کمیسیون په یادو شوو توقیف خانو کی ترسره شوی شکنجی نه دی رابرسیره کړی. داسی روشونه دی خپل کړی چی په راتلونکی کی د توقیف خانو موثر نظارت تأمین کړی.

- د بهرنی احتساب یو میکانیزم دی تطبیق کړی چی د ملی امنیت په توقیف خانو کی د ناوړه چلند راپورونو په برخه کی خپلواکه او رښو تحقیقاتو ته اجازه ورکړی.

- ډاډمنه دی کړی چی د ملی امنیت ټول مستنطقین او د هغوی آمرینو ته د تحقیق د قانونی او مؤثرو کړنلارو، تحقیق د بدیلو لارو (لکه عدلی طب) په برخه کی او د داخلی او نړیوالو قوانینو په هکله چی شکنجه او ناوړه سلوک منع کوی، د نړیوالو شریکانو په مرسته ټریننګ ورکړل شی.

- هغه پالیسی ګانی او کړنی دی تعدیل کړی چی مدافع وکیلانو ته اجازه ورکوی تر څو توقیفیانو ته لاس رسی ولری. مدافع وکیلانو ته د دی اجازه هم ورکړ شی چی له ټولو توقیف خانو څخه لیدنه وکړی او حقوقی خدمات ټولو توقیفیانوته د محاکمی په هره مرحله کی د افغانستان د قوانینو سره سم وړاندی کړی.

**دافغانستان ملی پولیس ته:**

- ژر تر ژره دی داسی اقدامات ونیسی چی شکنجه او ناوړه چلند ودرول شی:
  - د ملی پولیسو په ټولو نظارتخانو کی دی د شکنجی او بدرفتاری ټولو راپورونو په هکله تحقیق وکړی، او هغه کارکوونکی چی مسؤول ګڼل کیږی باید له دندی څخه لیری، عدلی تعقیب، اظباطی اقداماتو سره مخ او مجازات شی.
  - د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون، یوناما، د سره صلیب نړیوالی کمیټی او نورو خپلواکه ناظرینوت دی د ملی پولیسو او داخله وزارت په ټولو نظارتخانو کی د نظارت اجاره وکړی.
- داسی هدایات دی صادر او عملی کړی چی په هغو کی پولیسو ته هدایت ورکړ شی چی د جنایی تحقیقاتو د څانګی، د تروریزم سره د مبارزی څانګی او یا دی ته ورته نورو څانګو څخه بوازی یو شمیر محدود افسران کولای شی تحقیقات تر سره کړی. د قانونی او مؤثرو تحقیقاتو او د شکنجی او ناوړه چلند د منع کولو قانونی منع کیدلو په هکله دی د معیاری اجراآتو پروسیجر او لارښودونه صادر کړای شی.

**د افغانستان حکومت ته:**

- هغه قانونی چوکاټ او پروسیجرونه دی طرح کړی چی د ملی امنیت اجراآت علنی او شفافه کړی، او ډاډمنه دی کړی چی دا قانونی پروسیجرونه د شدیدو جرمی خطاګانو، د ملی امنیت له خوا د بندیانو د شکنجی او ناوړه چلند په شمول، خارجی تحقیقاتو او عدلی تعقیب او په ملکی عدلی سیستم کی رسیده ګی ته زمینه برابره کړی.

**ستری محکمی ته:**

- د ابتداییه او مرافعه محاکمو قاضیانو ته هدایت ورکړ شی چی د شکنجی او جبری اقرارونو ټولی ادعاګانی وڅیړی او څرنګه چی په اساسی قانون او د جزایی اجرااتو په موقت قانون کی تصریح شوی دی د شکنجی له لاری د معلوماتو د لاس ته راوړلو روش په جدی توګه منع کړی.

**ستری محکمی ، عدلیی وزارت ، کورنیو چارو وزارت او پارلمان ته:**

- د جزایی اجرااتو موقت قانون دی بیا وکتل شی او د توقیفی حق چی هرڅه عاجل محکمی ته وړاندی شی باید پیشبینی شی او مخکی د محکمی څخه توقیف باندی اعتراض حق دی د محکمی بیرنی حکم سره سم تضمین شی.

**هغه هیوادونو ته چی افغانستان کی سرتیری لری او نورو ذیدخله هیوادونو ته:**

- د ملی امنیت ریاست او د افغان ملی پولیسو توقیف خانو او مرکزونو ته چی هلته د شکنجی او ناوړه چلند ادعاګانی موجود دی د توقیفیانو انتقال دی وځنډول شی. د ملی امنیت ریاست د هغو توقیف خانو د نظارتی میکانیزم بیا کتنه دی وکړی چی توقیفیان هلته انتقالیږی او د دی ډاډ دی حاصل شی چی توقیفیان د شکنجی له خطر سره نه مخامخ کیږی.
- د ملی امنیت ریاست او افغان ملی پولیس توقیف خانو ته د انتقال د پالیسی ګانو بیا کتنه دی وشی تر څو مناسب ضمانتونه تأمین شی او په ګډو عملیاتو کی برخه اخیستل، د مالی منابعو برابرول، د انتقال پروسه، ګډی استخباراتی اړیکی او نور روشونو څخه دی د شکنجی د مخنیوی او د پولیس او ملی امنیت د اصلاح د وسایلو په توګه استفاده وشی.
- د ملی پولیسو او ملی امنیت د پرسونل او تسهیلاتو ظرفیت ته دی د توقیفیانو پر بشری حقونو او د توقیف پر طریقو ټریننګ او تربیی له لاری د نړیوالو بشری حقونو معیارونو مطابق وده ورکړای شی.
- د ملی امنیت او ملی پولیسو ټولو مستنطقینو او د هغوی آمرینو ته دی د تحقیقاتو پر قانونی او مؤثرو میتودونو او بدیلو د تحقیق روشونو (لکه عدلی طب) ټریننګ په موخه هڅی لا زیاتی کړی.

عمومی سپارښتنی د دی راپور اخر کی لیدلای شی.